**ليکونکی: کاترينا واندين هيوبل « Katrina Vanden Heuvel ».**



**منبع اودخپريدو نيټه : کمان دريم «2017-05-17» .له واشنګټن پُست څخه**
**ژبا ړونکی: پوهندوی دوکتور سيد حسا م «مل».** .

-----------------------------------------------------------

# دامريکي متحده ايالات به هيڅکله دافغانستا ن په جګړه کي بري ترلاسه نکړي

## The US never win the war in Afghanistan

د امريکی د متحده ايالاتو جمهور ريس ښاغلي « دونا لد ترومپ » دخپل جنرالانو دغوښتنی په ځواب کی چی افغانستان ته اضا فی سرتيری وليږی اويا که ونه وليږی ؟ لاتراوسه پريکړه نه دی کړي اودا به د بيلګی په بڼه « دونالد ترومپ» ته حيرانونکی بريښيی چي هغه د امريکی د مخکينی جمهور ريس بارک «اوباما» داضافی سرتيرو دليږلو د امتناع اوږده کولو څخه داضا فی سرتيرو په ليږلو سره ګټه تر لاسه کړي او داسی اراده وکړی چی دامريکی دنظامی جنګونو په تاريخ کی دغه اوږد نظامی جګړی ته اضافی سرتيری وليږی . دونالد بايد د **سن جورج اليکن** (Sen George Aliken) په شان کوم چی هغه په کال (۱۹۹۶) کی د ويتنام په جګړه کی اعلام وکړ « بری اوله ويتنام څخه وتل» دځا ن سره مشوره وکړي.



د افغا نستا ن دامنيتی چا رواکی (سرتيری) د ننګرها رولايت د چپرها ر په اولسوالی کي داسلامی دولت پر وړاندی د عمليا تو په ترڅ کي ليد ل کيږی د مي د ميا شتی «۸»
عکاسی غلام الله «حبيبی» pressphoto –europa /Agency

جنرال دبلیو نیکلسون(John W. Nicholson) د امریکی د لوړ پوړو نظا می مقا ما تو څخه غوښته وکړ چی افغانستان ته د موجوده «بن بست» دما تولو اود له مینځه وړلو د پاره «۵۰۰۰» نور اضا فی سرتیری با ید ولیږل شي حا ل داچی ښاغلی بارک «اوباما» هم دخپل جنرالانو دغوښتنی په نظر کی نیولو سره هدایت ورکړ چې دامریکی دمتحده ایالاتو دسرتیری شمیر «سل زرو» نفرو ته ورسول شي تر څو چی په افغانستان کی موجوده «بن بست» له مینځه ویوړل شي ، اما یوه خبره چي با ید هیڅکله هیر نکړو هغه دادی چی نن طا لبا نود «۲۰۰۱» کال څخه راهیسي دافغانستان زیا تی سیمی تر خپل ولکی لاندی را وستي دي نو په ډاګه ویلی شو چی هغه (سل زره » سرتیری و نشو کړلی چي طا لبا نو ته ما تي ورکړي نو دغه نوی اضافی (۵۰۰۰) سرتیری به څرنګه کولای شی چی طا لبا نوته ماتی ورکړی دا یوډول ساده ګی او په اصطلاح سره پریخو باندی لیکل اولمر ته کینبودل دی کوم چی د هغه په ترڅ کی نه دا چي جنګ نه ختمیږی بلکه جنګ لا پسی به سخته ا و لا پسي به اوږدی شي .

مونږ نور د څه دپاره په افغانستان کی حضور لرو ، مونږ خودا سی پریکړه کړی وه چی د سپتمبرد (۹/۱۱) د پیښی د رامینځته کیدو څخه افغانستان ته ځو ، اسامه بن لادن تر لاسه کوو ، طالبانو ته جزا ورکو چي ولی دالقا عدی رهبر ته سرپناه ورکړی دي – اوس خو اسامه بن لادن هم مړ شو دالقاعدی سازمان اودهغه جنګیا لی دړی وړی شو اوطا لبا نو هم خپل جزا ولیدل او هم دافغانستان زیا ت بیګناه ملکی خلکو خپل ژوند دلاسه ورکړل ، ډیری افغانانو تیپان شول او یوزیات شمیر نورو افغانانو له خپلو کورونو څخه په اجبا ری بڼی سره بیځا یه او مهاجرت وکړل لکه هغسی چی د ملګرو ملتونو د یو راپور په ترڅ کی داسی په ګوته شوی چي پروسږ.کا ل له (۱۱۰۰۰) زیا تو افغا نا نو خپل ژوند دلاسه ورکړل ، اوتر (۶۶۰۰۰۰) نفرو یوری مها جر شوی اودهری ورځی په تیرید و سره لا پسي افغا نا نو اواره او مهاجر کیږي چی دغه ټول بد مرغی دهمدی نامعلوم اودهمدی بی ګټی جګړی پا یلی دي .

ددی نا معلومی اویا ددی نا پا یی جګړی مالی لګښت تراوسه پوری یوه تریلیون دالر اټکل شوی دی اودا دامریکی دمتحده ایالاتو ددوهم نړیوال جګړی څخه را وروسته دوم لوړ ما لی مصارفات او لګښتونه دی کوم چي په دغه جګړه کی په مصرف رسیدلی او له بله پلوه داسی تخمین شوی دي چی د(۲۰۱۷) مالی کال په موده کی ددی جګړی ددوام دپاره (۵۰) ملیارد ډالر ته ضرورت لیدل کیږی یعنی په هره هفته کی با ید چي یوملیارد ډالرمصرف شی اوبرسیره پردغه مصا رفاتومونږ لا تر اوسه خپل (۲۳۵۰) سرتیری په دغه جګړه کی دلاسه ورکړی او هم له (۲۰۰۰۰) څخه زیا ت سرتیری تیپان اویا له معیوبیت څخه رنځ وړي لکه هغسی چی دګارد ین دورځ پا ڼی یو بنسټ اینبودونکی اجرایوی مد یر ښاغلی (Trevor Timm) داسی څرګندوی : ډ یری دغه

سربازان کوم چی اوس په افغانستان کی جنگیږی داهغه کسا ن دی کوم چي د (۹/۱۱) د واقعی په موده کی لا زیږید لی نه وه.

مونږ اوس په دی موقف اویا دریځ کی نه یاستو چي ددښمن دپوره ماتي دپاره دغه جګړی ته دوام ورکړو یا داچی دلته په «ملت جوړونی» باندي سره ځان بوخت کړو. لکه هغسی چی مونږ ته راڅرګند دی هغه دا دي چی ا فغا نستان پخپله یوغرنی دوچي پراخي بیا با نونو لړونکي وچي پوری محاط اوپه نړي کي یوله خو را ډیر بی وزله او غریب هیواد څخه شمیرل کیږي سره له هغه چي په دي هیواد کي دا مریکی دمتحده ایالاتو د توسعوی ځانګړي پروګرام پواسطه سره څه کم اویا زیات (۱۱۷) میلیون دالر له کال (۲۰۰۲)څخه را په دي خوا دبیاجوړونی ترپروګرام لاندی لګول شوی مګر بیاهم دغه هیواد لا تراوسه بی وزله او نادار پاتی شوی دی او دبلی خوا څخه په دغه هیواد کی په غیر قانونی بڼی سره تقریباً دنړي (۷۰) تر (۸۰) سلنه تریاک تولید کیږی چي سره دتریاکو دغیرقانونی اودلمړنیو کمکونود ترلاسه شوی پیسي سره سره بیاهم دملګرو ملتونو دانسانی توسعوی شاخص د لست په اخرنی برخه کی ځای لری او هغه داچي په دی هیواد کی د ماشوما نو د مړنی کچه زیا ت دژوند توقع ښکته اوهم د هر سړی پر سر کلنی عاید ډیر لږ اوناچیز دي .

بی ځایه به نه وي چی ونه ویل شي او هغه داچي دامریکی متحده ایالات خپل زیاتي پیسي په چټلو اوبو یا فاضلاب کی توي کړ، کوم چی بیاهم ونشو کړلی چي دغه هیواد له بی وزلي حخه را وباسي . یعنی اوس هم افغانستان یوله د یرو بیرته پا تي هیوادونو څخه شمیرل کیږی لکه هغسی چي دنړیوال عدالت دپروژی د (۲۰۱۶) کا ل د قا نون د حاکمیت په نظرکی نیولوسره افغانستان یي د (۱۱۳) هیوادونو له جملی څخه (۱۱۱) هیواد ومنل ، اودبلی خوا څخه باید له یاده ونه باسو اوهغه داچي د امریکی متحده ایالات دافغا نستا ن دامنیتی ځوانوکونو په روزنه او تسلیحات کی ستر کمکونه تر سره کړ اما ددغه کمکونو سره سره بیا هم د افغا نستا ن امنیتی ځواکونه د طا لبا نو سره په جګړه کی سیا لی نشی کولي اودهغه روښا نه بیلګه دادی چي طا لبا نو اوس دافغانستان زیا تی برخي تر خپل کنترول لاندی راوستي دي .

زمونږ ساده ګی اوناپو هی په دی کي دی چي مونږ له خپلو نظامیانو څخه غواړوچي د نړی په بل اړخ کی «ملت جوړونه » وکړی ، اود همدی هد ف د پاره خپل سرتیری هغه هیواد ته لیږوکوم چی زمونږ سرتیری د هغه هیواد ، د ژبی ، فرهنګ ، مذهب ، قومی اختلا فا ت ، قومی جوړښتونواودهغه هیواد له تاریخ څخه بیګانه او بی خبر دي . اما یواخنی مشترکات کوم چی ددغه هیواد خلک سره په اتحاد کی سا تی هغه دهغوی سترغرور،آزادی خواهي اواستقلال دی کوم چی دهمدی سترغروريه لرلوسره افغانستان د امپراتورانو ګورستان نومول شوی – اوداهغه شانته خلک دي چي دتاریخ په اوږدو کی دانګلیس ستر امپراتوری ته څو څو واری له (۱۸۳۹) څخه تر (۱۹۱۹) پوری

ماتې ورکړې يعنې دنړۍ هغسې يو ستر امپراتورۍ ته چې دهغه داستعمار لمر دهغه په مستعمراتوکې نه ښکته کېدل « غروبېدل» ياداچې دافغانستان مجاهيدين په کال ( ۱۹۸۰ ) کې دشوروي اتحاد لښکر له خپل هيواد څخه دباندې کړ نو بايد په ډاګه شي چې دامريکې متحده ايالات په نړۍ کې دقدرتمند پوځ په لرلو سره تر هغه وخته پورې چې وغواړي دخپل سرتيرو اودخپل مالي منابعو له ضايع کيدو څخه مخنيوي وکړي مګر بياهم وبه نشي کړلې چې په دې جګړه کې بريالېتوب تر لاسه کړي .

زمونږ نظا ميا ن په افغانستان کې دبريا ليتوب کوم ځا نګړي ستراتيژي په لاس کې نه لري بلکه دهغوي رغنده پلان اوطرح دادي چې په دې روانه جګړه کې ما تې ونخوري لکه چې زمونږ هيڅ يوجمهور ريس په دې تيرو (۱۵) کلونوکې دخپل سرتيرو ما تې او شکست لا تراوسه نه دی منلی ، د حيرانتيا بله خبره دادي چې ښاغلی **دونالد ترومپ** دخپل انتخا با تې دورې په کمپا ين کې په ډېر تحقيرآميز بنې سره دامريکې پر نظا مي سياستوالو با ندې نيوکې کوله چې هغوی د امريکې د متحده ايالاتو (۶) تريليون دالر دمينځنۍ ختيځ په جګړوکې بې له کوم ښکاره لاسته راوړنې ولګول يعنې چې نوموړي مقا ما ت دامريکې دخلکو (۶) تريليون دالرپه اوبو کې لاهو کړ اوهيڅ بريا تر لاسه نکړ د يا د ونې مهم خبره دادی چې ښاغلی **دونا لد ترومپ** په کا ل (۲۰۱۳) پخپل تويټر (Tweeter) کې وليکل **« مونږ با يد په ډېر بيړه سره له افغانستان حخه پښې را سپکه کړو اوووځو»** اولازم نه دی چې په دې بې حا صله جګړه کې ما لی او ځا نی تلفا ت ورکړو هرڅومره زر با يد له دغه هيواد څخه ووځو اولازم دی چې دامريکې په بيا رغونه کې ډېر سخت کا ر او زخمت وبا سو تر څو چې زمونږ هيواد لا پسې سمسور شي .

دښاغلی «اوباما» ګڼ شمير جنرالان او دهغه دادارې زيات مشاورين پر هغه باندې فشار واچول تر څوچې «اوباما»په دې راضي کړي چې دا فغانستان د جګړې د کنټلو د پا ره نور اضا في سرتيری وليږي اما هغه د خپل زما مد ا رۍ د «اته کا لو » په وروستيو کې دافغانستان په هکله پوره معلومات او پوهاوی تر لاسه کړ داهغه مطلب دی کوم چې ښاغلی «اوباما» تير کال پخپل يو خبری ناسته کې داسې وويل ( مونږ مخکې له هغه چې افغانستان ته لاړشو بايد په ډاګه کړو چې افغانستان په نړۍ کې ډېر يو بيرته پاتې هيواد او دهغه دخلکو دبيسوادی کچه خورا ډېر ټيټ وه هلته قومی ،ژبنی او قبيلوی ژور اختلافات دهيواد خلک سره په ګروپونو ويشلی دی اودغه تفا وتونه لاتراوسه په هغه هيواد کې موجود دي چې څوک ورڅخه سترګې نشي پټولي ).

کله چې د امريکې د متحده ايالاتو په افغانستان کې ميشتو نظا ميا نو تيره مياشت د ننګرهار دولايت د شينوارو داچين په اولسوالی کې دتپولو نه غټ د (مورد بمب) په نوم وغورځول نو ښاغلی دونالد ترومپ په ډېر سر لوړی او افتخار سره وويل : دا مونږ اوو چې خپل نظا ميا نو ته ددې بمب دغورځولو پوره واک او اختيار ورکړی وه چې

دغه بمب وکاروی اما دلته هیڅ کوم یوداسی ښکاره دلیل ددی بمب دغورځولو په اړه
لکه د مینځنی ختیځ دسا بقی په پام کي نیولو سره نه تر سترګو کیږی کوم چي په دی
برخه کی ښاغلی اندریو باسیویچ (Andrew Bacevich) د ا مریکی د نظامیا نو ددی
کړنی په اړه داسی توضیحات ورکوي :د ویتنام دجګړی څخه را وروسته پرعراق باندی
دامریکی له خوا یرغل امریکی ته بی له یو ډول غټ ما تی اوشکست بل شی نه شمیرل
کیږی اوپه همدی شان په دوامداربنی سره دعراق دجګړي په جبهه زارکی دامریکایی
نظا میا نو بند پا تی کیدل په دی منجر شو چي اسلا می افراطی دولت (داعش) را
مینځته شی ا ویا داچی دامریکی دمتحده ایالاتو د (بشردوستانه مداخلی ) په اثر کوم چی
په لیبیا کی ترسره شو بی دکوم رغنده لاسته راوړنی د ناکامی سره مخامخ شو اوهلته
یو بی ثبات له خشونته ډک دولت رامینځته شو کوم چی دافراطی اود تروریستی ډلو تپلو
دودی په یوه مساعده سیمه باندی واغوښتل یا داچی دامریکی د متحده ایالاتو مداخله په
سوریه کی یو انسا نی فاجعه را مینځته کړچی په زرګونو بی ګناه خلکو خپل ژوند دلاسه
ورکړل .
ښاغلی دونالد ترومپ با ید خپل ټول هغه وعدی کوم چی د خپل ا نتخا با تی مبارزی
په موده کی ورکړی وه یو دبل پسي تر سره کړي او یو له دی ورکړ شوی وعدی څخه
باید چي دامریکی سرتیری بیرته وطن ته را وغواړي اودهغه بی ځا یه مصارفاتو څخه
مخنیوی وکړی او ټول خوندی کړشوی پیسی د امریکی د بیا رغونی په چا رو کی
مصرف کړی اوهغه پیسي چی په افغانستان کی د خپل نظا میا نو په معشیت کی په
مصرف رسوی هغه پیسی دی وسپموی او هم په افغانستان کی دهغه هیواد دضرورتونو
په لرلو سره د مهاجرت بحران ته دپای ټکی کیږدی ، دا باید په داګه شي چی افغانستان
د پا لیسی هغه یواځنی سیمه یا منطقه دي چی په هغه کی باید سم پریکړه ترسره شي
نو که چیری دونالد ترومپ دښاغلی اوباما په ګامونو کی ګام پورته نکړی ددی امکان
تر سترګو کیدای شي چي هغه په خلکو کی په پټها نی بنی سره محبوب شي .

دمقالی دلیکونکی په اړه څو ټکي : کا ترین وندن هیوبل یو امریکا یی ناشر او
خپره ونکی دی هغه ا وس د «ملت د مجلی» دیوی برخی مد یره دی کوم چی دغه
موقف یی له کال (۱۹۹۵) څخه را هیسی تر لاسه کړی دی .

-----------------------------------په تودو سلامونو سره (2017-05-18)